## ذاتي ارزښت

هغه ظرفیت دی چې د شي په ذات کې شتون او د هغه په ارزښت کې رول ولري. دری: [ارزش ذاتی]

## ذاتي چارې

تقرر، تبدل، ترفیع، د رتبې تعدیل، تقاعد، د تقاعد رفع کېدل، د موافقې ورکول، د استعفی منل او د خدمت تمدید دی. دری: [امور ذاتی]

## ذراع

شرعي ټاکل شوی اندازه چې په پخوا وختونو کې يې د متريک اندازې اخيستلو په حيث قرار درلود.
دری: [ ذراع]

## ذرعي او مذروع

هغه شيان چې اندازه يې د ذرع (ګز)، فُټ او داسي نورو مقياسونو په مرسته ټاکل کيږي. دری: [ذرعی ومذروع]

## ذکر خنثی

هغه شخص دی چې د ذکور علامې پرې غالبې وي.
دری:[خنثی ذکر]

## ذمه

له هغه صفت څخه عبارت دی چې په سبب يې انسان دا اهليت پيداکوي چې د هغه لپاره يوشی ثابت او يا د هغه پرضد يو شی لازم شي. دری: [ذمه]

## ذنب

د اسلامي شريعت مخالف عمل ته وايي. دری: [ذنب]

## ذوی الارحام

که چېرې د عصباتو او يا هم د نسبي فروو د اصحابو له جملې څخه يو هم شتوالی ونلري، ټوله متروکه او يا هم د هغې پاتې برخه ذوی الارحام ته ورکول کېږي.
دری:[ذوی الارحام]

## ذوی الفروض

ذوی الفروض هغه وارثين دي چې په اسلامي شريعت کې د هغوی لپاره په ترکه کې ټاکلې برخې په ګوته شوي وي. دری:[ذوی الفروض]

## ذهاب عين

د عين يا مال د له منځه تلل دي. دری:[عين ذهاب]

## ذهني جرايم

پر هغو جرمونو اطلاق کېږي چې د معنوي حقوقو پر ګټو تېری شوی وي. دری:[جرايم ذهنی]

## ذی حق

هغه شخص ته ويل کيږي چې په مختلفو حقوقي حوادثو او اعمالو کې مستحق وي. دری: [ذيحق]

## ذيعلاقه

د يو شخص له خوا د يو عمل په سرته رسولو کې د هغې د علاقه مندي د شتون په معنی کارول کېږي.
دری: [ ذيعلاقه]

## ذينفع

هغه شخص ته ويل کيږي چې په يوه موضوع کې د ګټې لرونکی وي. دری: [ذينفع]